Pashto



Akron Public Schools

فهرست


1. مسولیتونه
   a. د ساحي مسولیتونه
   b. د والدینو او زدکونکو مسولیتونه
2. د کرومبوک توزیع کیدل او تر لاسه کیدل
3. د کرومبوک ساتنه
   a. عمومی ساتنه
   b. د کرومبوک انتقالول
   c. د کرومبوک چارجول
   d. د کرومبوک پاک ساتل
   e. د سکرین ساتنه

4. [په ښونځي کې د کرومبوک استعمال]
   a. د کرومبوک پرېښول په کور کې
   b. کرومبوک تر ترمیم لاندی
   c. پرده او پاسورډ
   d. اواز
   e. نشرول او چاپول
   f. اکانټ ته لاس رسی لرل
5. [په کرومبوک باندي کمپیوټري او ډاټا ساتني کار کول]
6. [د کرومبوک بنسټیز سیسټم یا اوپیریټنګ سیسټم]
   a. د کرومبوک نوي کیدل (اپډیټول)
   b. له وایرس څخه ساتنه او اضافه پروګرامونه
   c. د سافټویر انسټالیدل (داخیلیدل)
7. [د موافقي وړ لارښوني]
   a. عمومي لارښوني
   b. محرمیت او ساتنه
   c. قانوني ملکیت
   d. د ایمل اړیکي
   e. پایلي
   f. کورنی استعمال
8. [د کرومبوک ذخیره او ساتنه یي]
   a. د کرومبوک پیژندګلوي
   b. د کرومبوک ذخیره
   c. په غیر مسولانه ځای کي د کرومبوک پرېښودل
9. [د کرومبوک ترمیم]
   a. د کمپنی ګرنتی یا ضمانت
   b. ترمیم

10. د کرومبوک تخنیکي مرسته

11. ضمیمه

a. د APS زدکونکو او والدینو د کرومبوک استعمالیدني موافقه

b. د APS کارکونکو د کرومبوک استعمالیدني موافقه

c. 7540 کمپیوټر ټکنالوژی او نیټورک

d. 7540.03 د زدکونکو تعلیمي او ټیکنالوژیکی موافقه او د ساتني پالیسي

e. 7540.03 د کارمندانو تعلیمي او ټیکنالوژیکی موافقه او د ساتني پالیسي

f. د والدینو رهنمودکتاب

g. د والدینو/مسولینو لپاره د G-Suite اجازت فارم

h. د کرومبوک په اړه پوښتني

## 1. مسولیتونه

### د ساحې مسولیتونه

ساحه د ماشومانو او زدکونکو پر کرومبوکونو او انټرنیټ پاڼو باندې د CIPA انټرنیټی ساتنې پالیسي تطبیقوي تر څو په ښونځی یا کور کې یې د غیري قانوني او غیرمناسبې استعمالیدنې مخه نیول شوې وي. کرومبوک چې د غیري مناسب استعمال په ترڅ کې نه وې خراب شوی د ترمیم مصارف یې د ساحې په غاړه دي. که یې امکانات موجود وه ساحه به زدکونکو ته د ترمیم کیدونکو کرومبوکونو پر ځای نور ورکړي.

### د والدینو او زدکونکو مسولیتونه

د ساحې د بل هر ډول ملکیت (لکه کتابونو) غوندې والدین او زدکونکي د کرومبوک د ساتنې او سالم استعمال مسولیت هم په غاړه لري. دا چې کرومبوک یو انټرنیټی اله ده نو زدکونکي په کور یا ښونځی کې د wifi له لارې انټرنیټ ته اړتیا لري تر څو انټرنیټی پروګرامو ته لاس رسی پیدا کړي. په ښونځی او بل هر ځای کې له زدکونکو څخه د APS ټیکنالوژی د پالیسیو، فدرالي او ایالتي قوانینو او محلي اصولو د مراعتولو غوښتنه کیږي.

## 2. د کرومبوک توزیع کیدل او تر لاسه کیدل

د کرومبوک رهنمود فامیلیو ته د ساحې د هغه د ساحې د یوه ملکیت غوندې د ساتنې په مورد معلومات ورکوي. والدین، مسولین او زدکونکي باید د کرومبوک د تر لاسه کیدنې مخکې د APS پالیسیو او قوانینو مواقتنامه لاسلیک کړي.

کرومبوک زده کونکو ته د ویلو د کتاب غوندې توزیع کیږي. له والدینو او زدکونکو څخه د هر تعلیمي کال په پای یا هم له ښونځی یا ساحې څخه له لیرې کیدلو وروسته کرومبوک بیرته اخیستل کیږي. زدکونکو ته هر کال، چې له همدې ښونځی سره پاته وي، یو شان کرومبوک ور کول کیږي. که یو زدکونکی د APS ښونځیو تر منځ انتقالیږي، د هماغه نوی ښونځی لخوا بل کرومبوک ورکول کیږي. کرومبوکونه د تسلیمی پر وخت د خرابی او چیک کولو په موخه تر نظر تیریږي.

- زدکونکي او کارکونکي د ساحې د پرېښولو پر وخت ساحې ته د هماغه د ساحې لخوا د ورکول شوي کرومبوک تسلیمولو مسولیت لري.
- د کرومبوک د نه تسلیمولو په صورت کې موضوع غلا شوی ګڼل کیږي او قانوني چلند تر سره کیږي.

## 3. د کرومبوک ساتنه

زده کونکی او کارکونکی د ښونځی لخوا د ورکول شوی کرومبوک د عمومي ساتنې په برخه کې مسول دي

### a. عمومي ساتنه

i. کرومبوکونه باید د غذا او چښاک له ساحو لیرې استعمال شي.

ii. زده کونکي باید کرمبوک هره ورځ له چارج څخه ډک ښونځي ته راوړي.

iii. لینونه، چارجر او کونیکټران باید په سالمه توګه له کرومبوک سره استعمال شي.

iv. کرومبوکونه د عمومي ساتنې په موخه له ساتونکو کیزو (protective cases) سره راځي او باید همالته خوندي شي.

v. کرومبوکونه باید د استعمالولو، نقلولو او د کتابو په بسته کې د اچولو پر وخت هر کله پخپلو کیزو کې ساتل شوي وي

vi. کرومبوکونه او کیزونه يې چې د ښوونځی لخوا پاک توزیع کیږي، باید هماغسي پاک تسلیم شي. زدکونکي باید پر کرومبوک یا کیز باندي رسامي، خطونه او نوره چټلي و نه کړي.

vii. پر کروبوک باید هر کله د اکرون پبلیک سکول د ساحې نښان (ټګ) او د زدکونکي نوم او هويت نښتی وي. دا نښان باید هیڅ کله له منځه ولاړ نشي. که له منځه ولاړ شي موضوع غیري ډیسپلني عمل ګڼل کیږي.

viii. کرومبوکونه باید هیڅ کله په موټر یا نورو غیري مسولیت لرونکو ساحو کې پرینښودل شي.

**b. د کرومبوک نقلول**

i. کرومبوکونه باید هر کله پخپلو کیزو کې وي.

ii. د کرومبوک د نقلولو پر وخت يې باید سکرین او هنداره په سالم ډول تړل شوي وي.

iii. کرومبوک د نقلولو پر وخت تر سکرین مه نیسئ.

**c. د کرومبوک چارجول**

i. کرومبوک له ۶ څخه تر ۸ ساعتو پوري چارج ساتلای شي.

ii. له کار اخیستلو وروسته کرومبوک باید د راتلونکي ورځې لپاره ښه چارج شي.

iii. د چارجر د چارجولو برخه نازکه او ماتیدونکي ده. چارجر باید په احتیاط استعمال شي.

iv. کرومبوک باید هره ورځ ښونځي ته له چارجه ډک راوړل شي. دا اصول نه مراعتول غیري ډیسپلیني موضوع یادیږي.

**d. کرومبوک پاک ساتل**

i. د پاکیدلو پر وخت کرومبوک له چارجه وباسئ او د چارجر لین ځنې لیري کړئ.

ii. سکرین په نازک، وچ او نرم ټوکر (پارچې) پاک کړئ. د کړکی یا هنداري پاکولو مایعات د کرومبوک لپاره مه استمعالوئ. د سترګو د چشمو (عینکو) د هندارو پاکولو مواد او کاغذ هم د کرومبوک د پاکولو په لپاره استعمالولای شئ. خو پر سکرین ډیر کلک فشار را وړل سکرین ماتوي او پاکونکی ټوکر یا کاغذ باید وچ وي.

iii. خیرن یا زیږ کاغذ او سپری چې رنګ او کیفیت له منځه وړي مه استعمالوئ.

iv. د کی بورډ د پاکیدو پر وخت له فشاره کار مه اخلئ، د کی بورډ سویچان خرابیږي.

**e. د سکرین ساتنه**

i. د کرومبوک هنداره د زیات فشار په واردولو ډیر ژر ماتیږي.

ii. د کرومبوک پر سر باندي په بند حالت کې دروند فشار مه واردوئ.

iii. کرومبوکونه د پټېدلو یا نه استعمالیدلو پر وخت بند وساتئ.

iv. که د کرومبوک پر هنداره فشار وارد شي کرومبوک هم ماتیږي.

v. پر سکرین باندي باید هیڅ تیره شی، چې سکرین زخمي کوي لکه قلم یا پنسل و نه وهل شي

vi. د بندولو په وخت د کیبورډ پر سر هیڅ شی (لکه قلم، پنسل یا سي ډی) مه ایږدئ ځکه سکرین زخمي کوي.

## 4. په ښوونځی کې د کرومبوک استعمال

### a. په کور کې د کرومبوک پریښول

زدکونکي ته چې خپل کرومبوک یې په کور کې پرینبی وي، په ډیرو محدودو حالاتو کې یو بل کرومبوک د استعمال لپاره ورکول کیدلای شي. کله چې یو زدکونکي ډیر ځله د کرومبوک په پور اخیستونکی شي دا تعداد د ساحې د کارمندانو لخوا د سیمستر یا کاري وخت په جریان کې شمیرل کیږي او محدودیږي.

### b. کرومبوک تر ترمیم لاندي

کرومبوک اکثره وخت د APS ټکنالوژی د کارکونکو لخوا ترمیمیږي. والدینو او مسولینو ته د ټولو خرابیو په اړه معلومات ورکول کیږی تر څو دوی پوه شي چې کرومبوک کومه خرابي درلودله. کله چې کرومبوک تر ترمیم لاندي شو زده کونکي ته یې پر ځای بل کرومبوک موقتا ورکول کیږي.

### c. پرده او پاسورډ

i. نامشروع یا خراب تصویر باید پر پردې یا سکرین‌سیور باندي ښکاره نه شي.

ii. د وسلو او ټوپکانو، جنسي او نامشروع عکسو یا ویډیو ګانو، نا مناسبو الفاظو، الکولو، قاچاقو او د بدمعاشانو د ډلګیو سمبولونو او نښانونو راویستل پر پردې غیري ډیسپلني عمل پیژندل کیږي.

iii. خپل پاسورډ یا پټ نوم له ځان سره وساتئ، له بل چا سره یې مه شریکوئ.

### d. اواز

i. اواز باید همیشه ګونګ یا بند وي، او د زدکړې د پروګرامو د اوریدلو پر وخت د اواز پورته کیدلو اجازه باید له استاد څخه واخیستل شي

ii. د ګوشکو (ایرفونز) استعمال هم باید د استاد په هدایت او اجازه تر سره شي.

### e. نشرول او پرینتول

i. زدکونکي باید خپل کورنی دندې او کارونه د انټرنیټ له لاري له استادانو او ملګرو سره شریک کړي. ډیر استادان د انټرنیټ له لاري د ګوګل کلاسونه جوړوي. استادان له زدکونکو څخه غواړي چې خپلي کورنی دندې د انټرنیټ او جي سیوټ (د ګوګل پروګرامونه لکه ګوګل ډرایو، ډاکومنټس، شیټس، سلایډز او نورو) له لارې تکیمل کړي.

ii. زدکونکي کولای شي چي خپل کورني پرينټرونه د ګوګل کلاوډ له لاري له خپلو کرومبوکونو سره وصل کړي او کورني کارونه پرينټ کړي. د ګوګل کلاوډ اړوند مالومات په لاندي لينک کي شته:

http://www.google.com/cloudprint/learn

f. **اکانټ ته لاس رسی**

i. زدکونکي باید خپل **@apslearns.org** ډومېن اي ډی او پاسورډ استعمال کړي، او خپل اکانټ له ځان سره خوندي وساتي او پاسورډ له چا سره شريک نه کړي.

ii. زده کونکي باید کرومبوک په خپل اکانټ استعمال کړي.

5. په کرومبوک باندي ډيجيټل (کمپيوټري) کار اداره کول او ثبتول:

a. د جی سيوټ (د ګوګل پروګرامونه لکه ګوګل ډرايو، ډاکومنټس، شيټس، سلايډز او نورو) له لاري زدکونکي او استادان يو له بل سره په اړيکو کي پاتيدلای شي.

b. د وايرليس يا بي لينه انټرنيټ له لاري فايلو، اسنادواو نورو وسايلو ته تاسو له هر کمپيوټر څخه د نړۍ له هره ځايه لاس رسی لرلای شئ.

c. ټول شان په ګوګل کلاوډ کي انلاين ځای پر ځای کيږي.

6. **د کرومبوک بنسټيز پروګرام يا اوپيريټنګ سيسټم**

a. **د کرومبوک نويي کيدل يا اپډيټيدل**

کله چي يو کرومبوک فعال وي، په اتومات ډول اپډيټيږي يا نوی کيږي، نو ځکه ستاسو کرومبوک د کروم نوی ترين سيسټم په ځان کي لري.

b. **له وايروس څخه ساتنه او اضافه پروګرامونه**

کرومبوک په ځان کي له وايروس او انټرنيټي حملو څخه د ساتني په موخه لايحي لري. کله چي فايلونه يا کورنی دندي په ګوګل کلاوډ کي ساتل شوي وي، د خراپيدو په اړه يي تشويش مه کوئ.

c. **د پروګرام داخلول يا د سافټوير انسټاليشن**

کرومبوکونه جي سيوټ ته، د همکاريو توکو او نيټورکونو ته، د ګوګل ويب سټور نورو پروګرامونو او د انټرنيټ ټولو موادو ته لاس رسی لري.

7. **د موافقي وړ لاربنوني**

a. **عمومي لاربنوني**

i. زدکونکي ټولو موجوده فارمو، الکټرونيک ميډيا او اړيکو ته چي د دوی په علمي ماحول او تحقيق کي او د اکرون پبليک سکولز د اهدافو لاسته راوړلو په لار کي ورته پکاريږي، لاس رسی درلودلای شي.

ii. زدکونکي د ساحي د ټکنالوژۍ په اخلاقي او علمي چوکاټ کي د استعمالولو مسول دی.

iii. د اکرون پبلیک سکولز ټکنالوژیکی منابعو ته لاس رسی یو حق نه بلکه یو امتیاز دی. هر کارکونکی، زدکونکی او والدین د دې ټیکنالوژې د استعمال لپاره اړ دي څو د زدکونکو د تعلمي او تخنیکي موافقې پالیسیانې او قوانین مراعت کړي.

iv. د هر ډول توکو نقلول او نشرول چې د فدرالي او ایالتي قوانینو سره په ټکر کې وي، منع دي. دا توکي که څه هم تر دې پورې محدود نه دي عبارت دې له: محرم یا پټ معلومات، د کاپي حق درلودلو مواد، تهدیدونکي یا غلا شوي مواد او د کرومبوک وایرسونه.

v. د ډاټا یا معلوماتو شکل ته تغیر ورکول، د کرومبوک په پروګرامو او سیسټم کې لاس وهنه کول، یا هم د بل چا کرومبوک د هغه کس یا د مسول مدیر یا رسمي کارمند له اجازې پرته استعمالول د غلا (ونډیلیزم) په توګه د زدکونکو د لارښونو د کتاب او د ښونځی د پالیسیو مطابق غیرډیسپلني عمل شمیرل کیږي او جرم پیژندل کیږي.

b. **محرمیت او ساتنه**

i. د تعلمي اهدافو لاسته راوړلو په موخه استادان د اړیکو ټینګیدلو ګروپونه تشکیلوي. په داسي وخت کې د مجلسو ګروپونو (چټ رومز) د سوشل نیټورک سایټو او د حروفو د سلسلو لیږلو (چین لیټرز) سیستمو ته د استاد له اجازې پرته مه ورځئ.

ii. لکه څنګه چې د ساحې د پالیسیو په کتاب کې واضح شوې د ویډیو ګانو، ډاونلوډونو، دوستانه اړیکو ساتلو، نامشروع موادو او عکسو کتلو لپاره سرچینګ یا پلټنه مه کوئ.

iii. هغه فایلونه چې په تاسو پورې مربوط نه وي هغه مه استعمالوئ او لاس وهنه مه پکښي کوئ.

iv. خپل بشپړ نوم، د تلفون شمیره، د کور ادرس، سوشل سیکرټي نمبر، د کریډیټ کارډ نمبر، پاسورډ له بل چا سره مه شریکوئ. دا چې ټول کرومبوکونه د اکرون پبلیک سکولز ملکیت دی نو ځکه یې د بشپړ محرمیت ساتلو تضمین نشته.

v. که کوم ویب سایټ نا مشروع عکسونه یا فلمونه، غلطې صحنې او ناقانونه شان ښکار کول ژر تر ژره ځنی ووزئ او استاد ته مو خبر ورکړئ.

c. **قانوني ملکیت**

i. له ټریډمارک یا نښانو او کاپي حق لرلو مواقتنامو سره احتیاط او فکر کوئ. د قانون تر پښتو لاندې کول د بخښني وړ نه دي، له استاد سره په دې باره کې و وینئ او پوښتنې ورڅخه وکړئ.

ii. پلاجیاریزم یا د معنوي ملکیت غلا کول د والدینو په رهنمود کتاب کې جرم ګڼل شوی دی. په قوسونو یا هم نښاني شوو ځایو کې د استعمال شوو شانو د استعمال کریډیټ باید د هغوی اصلي مالکینو ته ورکول شي. په معنوي ملکیت کې فارمونه، میډیا، رسامی، فلمونه، میوزیک او ټیکسټ او داسي نور شامل دی.

iii. د سافټویر غلا کول یا هیکول تشدد او غلا ده او عاملین یې د غیرډیسپلني موضوع ته راجع کیږي او دا کار د ساحې د پالیسیو مطابق دا کار د فدرالي او ایالتي قوانینو پر اساس ستر جرم ګڼل کیږي.

d. **د ایمیل ترتیبول**

i. په ټولو اړیکو کې له سالمې او مناسبې ژبې او الفاظو څخه کار واخلئ.

ii. داسې الفاظ یا مواد چې بل چاته پر خپلو مقدساتو باندې تیری، زیشتې، تیره او بد ښکاري مه یې تبادله کوئ.

iii. غیر ضروري ایمیلونه او د حرفو لیږلو بې معنی سلسلې مه تبادله کوئ.

iv. ایمیلونه او اړیکې چې لیږل کیږي او تر لاسه کیږي باید ټول د تعلیم اړوند وي.

v. ایمیل او اړیکې د ښونځی لخوا همیشه تر تعقیب لاندې دي.

**e. پایلې**

i. زدکونکي ته چې کرومبوک او د سیستم اکانټ ور کول کیږي، همیشه یې د سالم استعمال مسول دی.

ii. د دې رهنمود د پالیسیو نه مراعتول او د انټرنیټ غیر مسولانه استعمالول او د منل شوي قانون او پالیسیو تر پښو لاندې کول غیرډیسپلني عمل پیژندل کیږي.

iii. ایمیل، د انټرنیټ استعمالول او نورو فایلو ته لاس رسی موندل باید پټ او پنهان و نه سنجول شي، دا په هر وخت کې د ساحې د موظفینو او کارمندانو تر نظارت لاندې دي.

iv. ساحه له محلي، ایالتي او فدرالي مامورینو سره د هر ډول تحقیق او پلټنو پر وخت د کمپیوټري جرایمو د کشف په برخه کې همکاري کوي.

**f. کورنی استعمال**

i. په کور کې د کرومبوک استعمالول اړین او ضروري دي.

ii. یو زدکونکی په کور کې په انټرنیټ نه لرلو پر نه ګڼل کیږي، کله چې د والدینو لخوا په کور کې د انټرنیټ نه لرلو خبر د ښونځی مدیر یا استاد ته ورکول شو د هغوی د ماشوم لپاره د کورني کار تر سره کولو په موخه په ښونځی کې زمینه مساعدیږي.

iii. د کرومبوک استعمالول په کور کې هم د ښونځی غوندې مهم او اړین دي. په دې برخه کې لاس په کار شئ.

iv. کرومبوکونه په خپلو کیزونو کې انتقال کړئ.

v. د ساحې لخوا د انټرنیټ د ټول فعالیت د څارنې په موخه تل یو سیستم فعال وي.

## 8. د کرومبوک ذخیره او ساتنه

### a. د کرومبوک پیژندنه

د زدکونکو کرومبوکونو باندې د ساحې لیبل وهل شوی دی. کرومبوکونه له مختلفو لارو پیژندل کیدلای شي:

i. د ساحې د ریکارډ نښان یا ټګ او سیریل نمبر له بارکوډ سره

ii. د استعمالونکي اکانټ نوم او پاسورډ

iii. د تعمیر د موجودۍ لیست

**b. د کرومبوک ذخیره**

i. کله چې زدکونکي کرومبوک نه استعمالوي باید په یو مناسب ځای کې یې خوندي کړي.

ii. د کرومبوک پر سر باید هیڅ شی په لاکر یا کیز کې د پټولو پر وخت کېښي نه ښوول شي.

iii. کرومبوک باید په موټر کې هیڅ کله که په ښونځی کې وي که په کور کې، کېښې نه ښول شي ځکه په موټر کې حرارت توند دی.

**c. په غیري مسولانه ځای کې د کرومبوک پریښول**

i. د دې لپاره چې د کرومبوک د غلا کیدني او خرابیدني مخه مو نیولې وي کرومبوک په غیر مسولانه ځای کې مه پریږدئ.

ii. غیر مسولانه سیمي لکه د ښونځي میداني، د ډوډی خوړلو ځای، د کمپیوټر لیب، لاکر روم، میډیا سنټر، د هال یا دهلیز لارې یا هم ښاري بسان. که مو په غیر مسولانه ځای کې یو کرومبوک پیدا کړ سمدستي یو کارمند ته خبر ورکړئ.

iii. غیرمسولانه کرومبوکونه د کارکونکو لخوا ضبتیږي، او په غیر مسولانه ځای کې د کرومبوک پریښول غیرډیسپلیني موضوع شمیرل کیږي.

**9. د کرومبوک ترمیم**

**a. د کارخانې ګرنټي یا ضمانت**

i. هر کرومبوک د کمپنی لخوا له یوې محدودې ګرنټی سره راځی، خو دا ګرنټي د هغه د پرزو او کار کولو لپاره وي.

ii. د نامناسب استعمال، ټکر او یا وایرس وهلو په وجه د هغه د ماتیدلو او خرابیدلو ګرنټي کمپنی نه کوي.

**b. ترمیم**

i. د کرومبوک د ماتیدلو یا خرابیدلو په وخت کې د ریپورټ ورکولو لپاره د APS د ساحي د ټیکیټ له سیسټم څخه کار واخلئ.

ii. کرومبوکونه چې مات شوي وي یا خراب شوي وي باید د بلډینګ موظفینو او کارکونکو ته ژر تر ژره ور وسپارل شي تر څو هغوی لاس په کار شي.

iii. کارکونکي، زدکونکي او والدین نشي کولای چې د هغه ترمیم ته خپله لاس په کار شي. د ساحي کرومبوک باید د بازار کمپیوټري دکانو او ورکشاپو ته د ترمیم په موخه نقل نه شي.

iv. د غفلت یا هم غیر سالم استعمال له وجې د ښونځی د قانون مطابق والدین او زدکونکي د کرومبوک، د چارجر، د لین او نورو برخو د ماتیدلو، خرابیدلو، ورکیدلو په برخه کې مالي مسولیت په غاړه لري.

v. والدين او زدکونکي د غفلت او غیر سالم استعمال په نتجه کې د هر ډول خرابی یا ورکیدلو په برخه کې مالي مسولیت په غاړه لري.

vi. اکرون پبلیک سکولز د وسایلو د ماتیدنګ په صورت کې د ترمیمیدلو یا بدلولو د مصارفو د ارزیابي کولو حق لري.

## 10. د کرومبوک تخنیکي مرسته

**a.** د APS تخنیکي خدماتو مدیریت لخوا لاندي مرستې چمتو کیدلای شي:

i. د پرزو یا هارډویر ترمیم او ترتیبول

ii. د APS منل شوی او منظور شوی سافټویر

iii. د پاسورډ ریزیټول (دوباره سیټول)

iv. د استعمالیدونکي اکانټ برابرول او ترتیبول

**b.** ټول ترمیمات باید د APS تخینیکي ټیم لخوا صورت ونیسي.